HELPING HAND
FOR RELIEF AND DEVELOPMENT
يدالعون للاغاثة والتنمية
AFGHANISTAN OFFICE

# Request for Quotation

## Provide Food Packages

## RFQ 03 (March, 2024)

| | |
|---|---|
| **Project Name** | **Ramadan Food Program** |
| **Province** | **Daikundi, Nuristan, Kunduz and Nangarhar Provinces** |

| | |
|---|---|
| **Company Name** | |
| **License No** | |
| **Date** | |


**HHRD Office Add: Zone 3, Golayee Araban, Jalalabad City, Nangarhar Province –Afghanistan**

**E-mail: hhrdprocurment@gmail.com**


د شرکت مسؤل استازی ( نماینده) لاسلیک او مهر:

## د دایکندی، نورستان، کنذز او ننګرهار ولایتونو کې د کونډو، یتیمانو، معلولینو او اړمنو کورنیو لپاره د روژې د خوراکي توکو قراردادي ته اړتیا

د هیلپینګ هینډ نړیواله خیریه مؤسسه غواړي د رمضان خوراکي توکو پروګرام (Ramadan foods Program) د دایکندي ، نورستان ، کندز او ننګرهار ولایتونو لپاره یو لړ خوراکي توکي د قرار داد له مخې خریداري کړي، کوم لوجیستکي ، لمېتډ ، سوداګــریز شرکتونه یا هم ستر پلورنځي  چې د قرارداد کولو لېوالتیا ولري، آفر تر لاسه کولو څخه وروسته دې بېـــرته تر 3 ورځو یادي مؤسسې بریـښنا لیک ته خپل آفر واستـــوي، البته د آفــر لېږلو اخـــري نېټه 2024-03-16 مه نېټه  د شنبې ورځ تر د مازدیګر 03:00 بجو پورې دي، له یاد شوي وخت څخه  وروسته لېږل شوی آفر نه منل کېږي.

### د شرکتونو محترمو مسؤلینو!

کله چې آفر تر ډکولو وروسته بریښنا لیک (ایمیل) او پورته فزیکي ادرس ته رالیږئ د شرکت جواز رنګه کاپي، د شرکت د رئیس د تذکرې رنګه کاپي، د شرکت اکاونټ نمبر معلومات، د دفتر د کرایې یا جایداد خط قرارداد کاپي، د مشابه قرارداد (کاري مخینه) د اســـنادو کاپي، Bank Statement Details ، شـــرکت باید د آزاد داوطلبۍ د ګډون کولو پر مهال 1,000,000 یو میلیون افغانۍ د تضـمین په توګه له ځان سـره ولري، آفر باید په سـافټ( ایمیل کې) او هارډ اصـل کې د HHRD مؤسسې ختیځ زون دفتر ته وسپارل شي، همدارنګه نور اسناد د آفر سره اړین دي چې باید ولېږل شي، همداراز د آفر ټولې پاڼې باید مهر او لاسلیک کړئ.

ایمیل ادرس : hhrdprocurment@gmail.com

د آفر لېږلو پیل نېټه، ورځ او وخت : نېټه: 14/03/2024 زېږدیز     ورځ: پنجشنبه     وخت: د سهار 09:00 بجې

د آفر لېږلو پای نېټه، ورځ او وخت : نېټه: 16/03/2024 زېږدیز     ورځ: شنبه     وخت: د مازیګر 03:00 بجې

### د داوطلب شرکتونو محترمو مسؤلینو!

د HHRD نړیوالې خیریه مؤسسې لخوا په RFQ کې چې په کوم نوعیت او کیفیت جنس غوښتل شوی دی  باید د هماغې نوعیت، کیفیت او ورځیني نرخ په نظر کې نیولو سره نرخ ورکړل شي، د هر ډول اشتباه په صورت کې  نوموړي شرکت ته په راتلونکي کې  هیڅ ډول د ګډون حق نه ورکول کېږي او شرکت د مؤسسې تورلېست ته شاملېږي، همدارنګه ټیټ نرخ ته نه، بلکې کیفیت او تجربې  ته اهمیت او حق اولیت ورکول کېږي.

د شرکت مسؤل استازی ( نماینده)  لاسلیک او مهر:

## 1-د داوطلب شرکت یا قرارداد کوونکي لپاره ټاکل شوي شرايط :

دا چې د HHRD نړیوالي خیریه مؤسسې اداره په دایکندی، نورستان، کندز او ننګرهار ولایتونو کې د کونډو، یتیمانو، معلولینو او اړمنو کورنیو لپاره د روژې د خوړو د کڅوړو وېش لپاره د خوراکي توکو کوټېشن اعلانوي، داوطلب شرکتونه مکلف دي چې لاندني شرایط بشپړ کړي، د شرایطو تر بشپړېدو څخه وروسته داوطلب شرکتونه به خپل آفرې په سافټ او هارډ کې HHRD مؤسسې ته وسپاري:

| | |
|---|---|
| 1 | داوطلب شرکت باید جواز ولري چې نېټه یې ختمه شوی نه وي او لږ تر لږه شپږ میاشتې وخت یې پاتې وي. |
| 2 | داوطلب شرکت باید د شرکت د رئیس یا مرستیال د پېژندپاڼي رنګه کاپي له RFQ سره یو ځای کړي. |
| 3 | داوطلب شـرکت باید د بانک اکونټ معلومات له RFQ سـره مل کړي، تر څو د شـوي خریداری حسـاب قراردادي شـرکت اکاونټ ته ولېږل شي. |
| 4 | داوطلب شرکت باید د دفتر د کرایې قرارداد خط یا جایداد خط ولري او کاپي یې له RFQ سره یوځای کړي. |
| 5 | داوطلب شرکت باید د خوراکي توکو مشابه قرارداد ترسره کړی وي او د مشابه قرارداد کاپي د 2022 تر 2024 کلونو ترمنځ له RFQ سره مل کړي. |
| 6 | د داوطلب شرکت استازی باید آزاد داوطلبۍ کې د ګډون کولو پرمهال 1000000 یو میلیون افغانۍ نغدي د تضمین په توګه له ځان سره ولري. |
| 7 | که چېرې آزاد داوطلبۍ کې د شـرکت رئیس یا مرسـتیال پرته د شرکت اسـتازی(نماینده) ګډون کوي، د شـرکت لخوا د اسـتازی معرفي مکتوب باید له ځان سره ولري. |
| 8 | داوطلب شرکت باید د ډک شوی آفر اسکن او اړین اسناد په یو فایل کې د HHRD مؤسسې ایمیل آدرس ته ولېږي، همداراز د آفر اصـل باید د داوطلب شـرکت لخوا په پاکټ کې بند شـوی او مهر شـوی د HHRD مؤسـسې خټیځ زون دفتر ته وسپارل شي. |
| 9 | په RFQ کې چې په کوم نوعیت او کیفیت خوراکي توکو یادونه شوی، داوطلب شرکت باید د همدې نوعیت او کیفیت له مخې جنس محاسبه کړي او ورځینی نرخ ولېږي. |
| 10 | داوطلب شرکت د آفر ډکولو څخه وروسته آفر باید په سافټ( د HHRD مؤسسې ایمیل آدرس ته) او هارډ (د آفر اصل ختیځ زون دفتر ته وسپاري) کې د HHRD مؤسسې ته وسپاري، که کوم داوطلب شرکت آفر یواځې په سافټ ایمیل آدرس یا پـه هارډ کې دفتر ته لېږلی وو، د ګډون کولو حق ورته نه ورکول کېږي، داوطلب شرکتونه باید خپلې آفرې په سافټ او هارډ کې د HHRD مؤسسې دفتر ته وسپاري. |
| 11 | دغه خوراکي توکي د روژې مبارکې میاشتې خوراکي توکو مرستې پروګرام لپاره ترسره کېږي چې په لاندې ډول دي :<br>۱. دایکندي ولایت کې د (400 بستې)<br>۳. کندز ولایت (600 بستې)<br>۴. ننګرهار ولایت (600 بستې)<br>چې جمله 2000بستې خریداري ترسره کېږي، خوراکي توکو مرستې بستې به د مؤسسې لخوا د هر ولایت مرکز کې تعین شوي ګودام ته د قرار دادي شـرکت لخوا رسـول کېږي او هملته به د قراردادي شـرکت لخوا ځای پر ځای کېږي چې لګښـت یې پر قراردادي شرکت دی. |
| 12 | د داوطلب شـرکت د ټاکل کېدلو څخه وروسـته د قراردادي شـرکت څخه د جنس او قرارداد د ضـمانت په توګه د خریدارۍ جمله حسـاب څخه 20% نغداً د قرار داد تر نهایي کېدو مؤسـسې سـره کېښـودل کېږي، که چېرته جنس کیفیت خراب وو یا هم وزن کم وو بیا د قراردادي شـرکت څخه پیسـې ګرځول کېږي او بېرته نه ورکول کېږي، که چېرته یې جنس صـحیح تسـلیم کړی وو بیا بېرته په ضمانت کې کېښودل شوي پیسې شرکت ته نغداً تسلیمیږي. |

د شرکت مسؤل استازی ( نماینده) لاسلیک او مهر:

| | |
|---|---|
| 13 | په RFQ کې ورکړل شــوي نرخونه د داوطلب شــرکت لخوا د ورکړل شــوې نېټې څخه د کونډو ، یتیمانو ، معلولینو او اړمنو کورنیو لپاره د روژې د خوړو د کڅوړو مرســتې ویش پروګرام ته تر یوې میاشــتې پورې باید اعتبار ولري په بازار کې تر د شــپږو میاشــتو د نرخ تغیربدو په صــورت کې مؤســســه هیڅ ډول مســؤلیت او مکلفیت نه لري او قراردادي شــرکت مکلف دی چې د همدي ورکړل شوي نرخ له مخې حساب وکړي او جنس آماده کړي. |
| 14 | د داوطلب شرکت لخوا لېږل شوي نرخونو کې به دوه سلنه مالیه شامله وي چې له قراردادي شرکت څخه ګرځول کېږي او د مؤسسې لخوا دولت ته تحویلیږي. |
| 15 | د کونډو ، یتیمانو ، معلولینو او اړمنو کورنیو لپاره د روژې د خوړو د کڅوړو مرستې ویش پروګرام لپاره د خوراکي توکو خریداري کې د دایکندي ، نورستان ، کندز او ننګرهار ولایتونو لپاره مجموعاً 2000 بستو بسته بندي(Packing) ، ولایتونو مرکزونو کې د توزیع ساحو ته د لېږد لګښت په ټاکل شوي قراردادي شرکت دی. |
| 16 | د خوراکي توکو پورته کولو (بارګیري)، ښکته کوونکو (تخلیه کوونکو مزدورانو) او لېږدولو(انتقالولو) لګښت پر قراردادي شرکت دی. |
| 17 | د توزیع پر ځای کې د جنس جوړول او ترتیبول د موسسې د لارښوونې له مخې پر قراردادي شرکت دی. |
| 18 | کله چې د ټاکل شوی کمېټې لخوا کوم شرکت د قرارداد وړ وګڼل شو د قرارداد څخه وروسته د توزیع پلان ورسره شریک شو، شــرکت مکلف دی چې د پلان له مخې جنس ځانګړی شــوی ګودام یا ســاحې ته ورســوي، د هر ډول ځنډ په صــورت کې د هرې یوې ورځې ځنډ لپاره قراردادي شــرکت 10000 لس زره افغانۍ جریمه کېږي او شــرکت څخه به د ضــمانت په پیســو کې ګرځول کېږي، چې بیا هیڅ ډول عذر د منلو وړ نه دی د دریبو ورځو ځنډ په صــورت کې قرارداد فسـخه او هېڅ ډول لګښـت نه ورکول کېږي او بل په شرایطو برابر شرکت ته به قرارداد ورکول کېږي. |
| 19 | کله چې د سمپلونو کتنې څخه وروسته داوطلب شرکت د قرارداد لپاره وړ وګڼل شو، ګټوونکی شرکت مکلف دی چې جنس د ســمپل مطابق برابر کړي، که چېرې شــرکت د ســمپل مطابق د جنس برابرولو څخه انکار وکړي، قرارداد فســخه کېږي او په ضــمانت کې اېښــودل شــوې پیســې ګرځول کېږي. همداراز که د توزیع څخه وروســته د ګټه اخیســتوونکو دریبو تنو د جنس خرابوالي په اړه شــکایت وکړو، د شــرکت لخوا به جنس بدلیږي، قرارداد فسخه کېږي او په ضــمانت کې اېښــودل شــوې پیسې ګرځول کېږي. |
| 20 | د شــوې خریدارۍ جمله حســاب به په قســطونو کې د جنس تســلیمولو څخه وروســته د انتخاب شــوی شــرکت اکاونټ ته لېږل کېږي. |
| 21 | داوطلب لوجیســتکي ، لمېټډ ، ســوداګریز شــرکتونه یا هم ســتر پلورنځي باید په ننګرهار ولایت کې د دفتر او ګودام فزیکي ادرس ولري، تر څو د HHRD مؤسسې د ختیځ زون دفتر د جنس کیفیت او بسته بندۍ څخه څارنه او نظارت وکړي. |

**یادونه: د HHRD نړیوالې خیریه مؤسسې لخوا پورتني 21 شرایط باید د دواطلب شرکت لخوا د آفر ببرته لېږلو پر وخت بشپړ او عملي شــوي وي او په دې RFQ کې ټول شــرایط یې منلی وي، همداراز د داوطلب شــرکت لخوا نرخونه باید تر یوې میاشــتې پورې اعتبار ولري چې داوطلب شــرکت به همدې نرخ ته ژمن وي، په بازار کې د نرخ تغیربدو په صورت کې مؤســسه هېڅ ډول مسؤلیت نه مني . د هر ډول اشتباه په صورت کې داوطلب شرکت ته د ګډون کولو حق نه ورکول کېږي.**

د شرکت مسؤل استازی ( نماینده) لاسلیک او مهر:

## 2-د داوطلب شرکت په اړه معلومات:

| | |
|---|---|
| د شرکت نوم د جواز مطابق: | |
| د شرکت د جواز ثبت شمېره: | د شرکت د جواز شمېره: |
| د شرکت د رئیس نوم: | د شرکت د رئیس د تذکرې شمېره: |
| د شرکت د مرستیال نوم: | د شرکت د مرستیال د تذکرې شمېره: |
| د شرکت د رئیس د اړیکې شمېره: | د شرکت د مرستیال د اړیکې شمېره: |
| د شرکت استازی( نماینده ) نوم: | په شرکت کې دنده: |
| د اړیکې شمېره: | د شرکت د استازي ایمیل ادرس: |
| د شرکت د دفتر فعلي ادرس: | |
| نیټه : / /2024 | ورځ : وخت : |
| د شرکت رئیس یا هم مسؤل استازی ( نماینده) لاسلیک او مهر: | |

## 3-اړین اسناد چې باید داوطلب شرکت یې له همدې RFQ سره مل را ولېږي:

-1 د داوطلب شرکت جواز رنګه سکن کاپي 2 - د داوطلب شرکت د ریس او مرستیال د تذکرې رنګه سکن کاپي
-3 د دواطلب شرکت نماینده تذکرې رنګه سکن کاپي
-4 د داوطلب شرکت بانکي اکاونټ نمبر او معلومات -5 د شرکت د دفتر کرایې قرارداد خط رنګه سکن کاپي یا هم که دفتر په خپل جایداد کې اوسي بیا د جایداد اړوند اسنادو کاپي
6 - د مشابه قرارداد داسنادو کاپي(تجربه کاري 2022 الی 2024 کلونو ترمنځ ) 7 - Bank Statement Details 8 - شرکت باید د داوطلبۍ پر وخت 1,000,000 یو میلیون افغانۍ نغدي د تضمین په توګه له ځان سره ولري.

یادونه: د همدې آفر هره پاڼه باید د شرکت رئیس یا مسؤل استازي(نماینده) لخوا مهر او لاسلیک شي، پورته ذکر شوي اسنادونو د RFQ سره یو ځای باید ولېږل شي، که چېرته یو سند هم کم اوسي، یا ټاکل شوي شرایط بشپړ شوي نه وي، بیا به شرکت ته هېڅ ډول د ګډون کولو حق نه ورکول کېږي، د HHRD مؤسسې د ټاکل شوی کمېټې لخوا د شرکتونو د اسنادونو بررسي ترسره کېږي، چې اسنادونه باید اصلي اوسي، په اسنادونو کې هر ډول تقلب جرم دی.

**د شرکت مسؤل استازی ( نماینده) لاسلیک او مهر:**

د شرکت مسؤل استازی ( نماینده) لاسلیک او مهر:

# RFQ of Food Items / د خوراکي توکو کوټېشن

| شمېره | د جنس نوم او ځانګړنې | د مقدار واحد | بسته بندي | انتقال ګودام ته | بارګيري او تخليه د جنس | وضعه شوې ماليه Deductible Tax | د جنس تعين شوی قيمت د شرکت لخوا | جمله قيمت په افغانيو ( بسته بندي مصارف +انتقال مصارف + بارګيري مصارف + تخليه مصارف+ ماليه + تعين شوی قيمت) | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | اوره ( قزاقي اول) ښه کيفيت | پنځوس کيلويي بوجی | | | | | | | |
| 2 | اوره ( قزاقي اول ) ښه کيفيت | شل کيلويي بوجی | | | | | | | |
| 3 | غوړي ( جامد ) ښه کيفيت | بوشکه (لس ليتره) | | | | | | | |
| 4 | غوړي ( مايع ) ښه کيفيت | بوتل (پنځه ليتره) | | | | | | | |

د شرکت مسؤل استازی ( نماينده) لاسليک او مهر:

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | وريجه<br>( اوله سيله) ښه کيفيت<br>(البته زاړه وريجه اوسي) | في کيلو | | | | | | | |
| 6 | بوره<br>(سپينه غټه) ښه کيفيت | في کيلو | | | | | | | |
| 7 | وطنی لوبيا<br>( غټه دانه والا لوبيا البته مکس نه اوسي) ښه | في کيلو | | | | | | | |
| 8 | دال<br>( چنه دال ) ښه کيفيت | في کيلو | | | | | | | |
| 9 | مالګه<br>( آيوډين دار) ښه کيفيت | في کيلو | | | | | | | |
| 10 | خرما<br>( تازه اوسي ) ښه کيفيت | في کيلو | | | | | | | |
| 11 | شين چای ښه کيفيت | في کيلو | | | | | | | |
| **مجموعه قیمت په افغانيو** | | | | | | | | | |

کـــوم نرخونه مو چې پورته د HHRD مؤسسې ته ورکړي دي له دقت څخه وروسته د جنس ښه کيفيت، د جنس بسته بندي مصارف، لېږد ( انتقال) لګښت، بارګيرې لګښت، تخليه لګښت، ماليه، د جنس قيمت پـــه نظر کې نيولو وروسته محاسبه او ورکړل شو، همداراز د زاړو وريجو نرخ ورکړل شوي د سړ کال وريجه بايد نه وي، لوبيا بايد وطنی او غټه دانې والا وي چې مکس ونلري، چې دغه ورکړل شـوي نرخ به تر خلورو مياشتو پورې اعتبار ولري که چېرته HHRD مؤسســه وغواړي چې د خوراکي توکو خريداري وکړي، نـــو د همدې نرخ له مخې به يې محاسبه کوي او حساب به يې د شرکت اکاونټ ته لېږل کېږي، په بـازار کې د نرخ د تغيرېدو په صورت کې مؤسسه هيڅ ډول مسؤليت نلري که نرخ لوړ شي او يا هم کم شي او نه نرخونو کې تغير راتللی شي

د ( شرکت نوم : ) شرکت اداره همدې نرخ ته ژمن او صادق دی.

د شرکت مسؤل استازی ( نماينده) لاسليک او مهر:

يادونه: که چېرته په پورته جنســونو کې د جنس بســته بندي لګښت، د لېږد(انتقال) لګښــت، ماليه، د جنس قيمت په نظر کې نيول شـوی وي، نو بيا د شـرکت اسناد او جنس د نورو شرکتونو سره مقايسه يا پرتله کېږي او که چېرته يواځې د جنس قيمت ورکړل شوی وو، ماليه يا نور مصارف په کې نه وو شامل شوي، بيا به هيڅ ډول د ګډون حق نه ورکول کېږي. همداراز په شرايطو کې غوښتل شوي اسناد بايد پوره او بشپړ ولېږل شي.